# خبری خپرونه

نړیوال بانك
له بي وسۍ فقر او غربت څخه ژغورلي
نړۍ ته د رسيدلو لپاره هلي ځلي

اړيکي:
په کابل کی: عبدلرووف ضیأ ۰۷۰۰۲۸۰۸۰۰(۹۳)
azia@worldbank.org
په واشنگتن کی: اريك نورا ۴۵۸ ۴۷۳۵ (۲۰۲)
بریښنا لیک: enora@worldbank.org

## د نړیوال بانك په راپور کی لیکل شوی دی چې د ولایتونو، ولسوالیو او سیمو په سطحه د دولت د رول پراختیا د خدمتونو د برابرولو لپاره خورا مهم دی

**کاّبل، د ۲۰۰۷م کال د جولاۍ د میاشتې ۱۸مه نیټه** – د نړیوال بانك په هغه راپور کی چې نن خپور شو، لیکل شوی دی چی د ولایتونو د اداري او خدمتونو د برابرونې د سیستمونو پیاوړتیا ، په افغانستان کې د پرمختګ او امنیت په ټینګولو کې خورا اهمیت لری.

د یاد شوی راپور پر بنسټ چې **په افغانستان کې د سیمه ایزو خدمتونو د برابرولو او دولت کولو؛** تر عنوان لاندې خپور شوی دی، هغه اساسی خنډونه چی په نوموړی هیواد کې د سیمه ایزو ادارو د پیاوړتیا په ضد شته دی، د غوښتل شوې اداری جوړښت لپاره د پالیسی د واضح چوکات نشتون او د هغې د پلی کولو لپاره د ستراتیژي نشتوالی ښودل شوی دی.

هغه وزارتونه چې په مرکز پوری زیات تړاو لری په هیواد کې د ډیریو خدمتونو د برابرونې دنده پر غاړه لری. په راپور کې لیکل شوی دی چې وزارتونه تر اندازې زیات په مرکز پوری تړلی دی او د هغوی مرکزی دفترونه په کابل کې داسی دندې او واکونه د ځان سره ساتی چې د دولت په لاندنیو برخو کې یعنی ولایاتو کی په ډیره ښه توګه اجرا کیدای شی.

*"افغانستان د ګڼو سیمه ایزو پانګه اچونو او خدمتونو د برابرونې د پروګرامونو د پیل په هکله ښه پرمختګ کړی دی."* دا خبره **الاستیر میکیچنی په افغانستان کې د نړیوال بانك رییس** ښکاره کړه او زیاته یې کړه چې *"سره لدی هم د چارو هم غړی ستونزمنه بریښی او د خدمتونو دوامداره برابرونه ګرانه اوسیدلې ده. دغه راپور د ولایتی او سیمه ایزو جوړښتونو په بیاجوړونه ټینګار کړی دی تر څو د وزارتونو د مرکزی ادارو او د ولایتونو د ادارو تر منځ د دندو د ویش په هکله ډاډ تر لاسه شی او اغیزمنتیا یې ډیره شی."*

په ځینو حالاتو کې به ښایی نوموړې موخه د مرکز څخه ولایتونو ته د واکونو او دندو په سپارلو سره تر سره شی. ربښتیا چې دا کار په ځینو ځایونو کې پیل شوی هم دی. د بیلګې په توګه، اوس مهال د معارف په وزارت کې د ښوونکو د ګمارلو واك ولایتونو ته سپارل کیږی.
**میکیچنی** زیاته کړه: *"سره لدی چې په راپور کې لیکل شوی دی چې باید لا زیاتې او منظمې هڅې د ولایتونو د سیستم د بیاجوړښت لپاره ترسره شی خو مهمه ده ترڅو یادونه وشی چې نوموړې موخه داسی لاس ته راوړل کیدای شی چې د دولت د اوسنی جوړښت د ننه د ولایتونو اړتیاوو ته زیاته پاملرنه وشی."*

اوس مهال د وزارتونو د ولایتی ادارو سیستم د ولایتونو د والیانو اړوند جوړښتونو سره جوخت په کار لګیا دی چې په دې توګه والیانو ته اجازه ورکوی ترڅو د ځینو لارو څخه د وزارتونو په چارو کې لاس وهنه وکړی. د بیلګې په توګه، والی د اړوند ولایت د ادارو په بستونو کې د ملکی خدمتونو د کارکوونکو د ټاکلو په هکله پراخ واکونه لری او همدارنګه د ولایتی ادارو د هغه لګښتونو د منظوری صلاحیت چې د اساسی بودجې له لاری سرته رسی، په خپل لاس کې لری.

په راپور کې ویل شوی دی چې مهمه ده ترڅو د چارو د انسجام او پلان جوړونو په هکله د والیانو د دفتر رول پیاوړی شی. په همدی حالت کې په راپور کې استدلال شوی دی چې د والیانو رول باید د دندو د سرته رسونې، بودجې او د اساسی خدمتونو د برابرونې په

چارو کې محدود شی ځکه دا کار په ولایتونو کې د وزارتونو د موثر فعالیت مخ نیوی کوی. همدارنګه په نوموړی راپور کې د ټاکل شویو نظارتی شورا ګانو د رول د پیاوړتیا په هکله غوښتنه شوې ده تر څو د خدمتونو په برابروونکو ادارو کنترول سرته ورسیدای شی.

په راپور کې زیاته شوې ده چې د ولایتی ادارو ضعف په هیواد کې د زیاتیدونکو امنیتی ستونزو څخه عبارت ده. **رولاند وایت چې د نړیوال بانك د پراختیایی چارو لوی متخصص او د پورتنی راپور لیکونکی دی**، وایی چې *"د امنیت نشتوالی د ملیشو قوماندانانو او جنایتکارو کسانو ته اجازه ورکړې ده تر څو خپل ځان ښکاره کړی او پر ځایی اداره او د خدمتونو په برابرونه خپلې ناوړه اغیزې واچوی.) ده زیاته کړه چی ( د دولت د پیاوړی او رسمی سیستم داسی منځ ته راتګ چې په ولایتونو کې د پراختیا او ژورتیا وړتیا ولری، د امنیت، اداري او پراختیا په چارو کې د پرمختګ لپاره په بشپړه توګه ضروری دی."*

په راپور کی یادونه شوې ده چې هغه پروژې چې پر امنیتی حالت تړاو لری او اصلا د دولت څخه پرته د نورو سیستمونو په کارونې سره د فزیکی شتمنیو د چټکې منځ ته راوړونې لپاره عملی کیږی، په ځینو حالتونو کې د دولت د موسسو او پروسو سره د مخالفت او نه سمون لامل ګرځیدلی دی. په داسې حال کې چې بریالی پروګرامونه په ولایتونو کې د سازمانی ظرفیتونو د ودې سبب ګرځیدلي دی خو د هغو د راتلونکی په هکله پوښتنی لا پر ځای پاته دی. د بیلګی په توګه په زر ګونو سیمه ایزی پراختیایی شورا ګانې چی د ملی پیوستون د پروګرام سره تړاو لری به د اوسنیو وجوهو د ختمیدو وروسته څه کوی؟

**په افغانستان کی د نړیوال بانك آمره، مریم شیرمن وایی چی** *"سیمه ایزی پراختیایی شورا ګانی د ډاډ وړ راتلونکی نه لری ځکه د خپلو وجهو د تمویل لپاره د ملی پیوستون په پروګرام تړاو لری"* دې زیاته کړه چی *"مهمه ده ترڅو په راتلونکی کې دا د سیمه ایزې اداري او خدمتونو د برابرونې سازمانونه په پام کی ونیول شی ترڅو د هغوی د سپارل شویو دندو د سرته رسولو لپاره کافی سرچینې برابرې شی."*

په راپور کی استدلال شوی دی چې اوسنی سیستم پر انصاف ندی ولاړ. دبیلګې په توګه د پنجشیر د ولایت د روغتیایی برخو بیله شوې بودجه د سرپل د ولایت د بودجې کابو شل برابره ده. همدارنګه د پکتیکا په ولایت کې د تعلیم د بودجې بیله شوې برخه د دای کندی په پرتله شپږ ځلې ډېره ده. په دی راپور کې ویل شوی دی چې د ولایتی بودجې دجوړونې بیلګه ایز پروګرام چی بریالی اوسیدلای دی باید پراختیا ومومی ترڅو نوموړی او نورو بودجوی موضوعاتو ته د ولایتونو په سطحه پاملرنه پیل شی.

###